سلسلة الصدق ۳

# امت
# پیغام

Download from:aghalibrary

الشیخ ابومصعب زرقاوی رحمه الله

بسم الله الرحمن الرحيم

# امت ته پیغام!

# الشهید الشیخ

# ابو مصعب الزرقاوی رحمه الله


ترتیبوونکی: استاد احمد ظاهر "اسلمیار" تقبلهُ الله

ژباړه : ابو اسحاق " نجار"

# د کتاب ځانګړني


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | امت ته پيغام! |
| دچاپ کال: | 1433 هجري قمري |
| د چاپ ګڼه: | دريم |
| دچاپ شمير: | 1000 ټوکه |
| ترتيبوونکی: | استاد احمد ظاهر" اسلميار" تقبلهُ الله |
| ژباړه: | ابو اسحاق " نجار" |
| خپرنو لړ: | (۳) درېيم |
| خپرندويه: | دار الصدق خپرندويه اداره |
| انټرنيت پته: | د فسبوک لنک: www.facebook.com/daarulsedq |



له بدلون پرته د هر داعی لپاره د چاپ او نشر حقوق محفوظ دی

| موضوع | لړليک | مخ |
|---|---|---|


د ژباړن سريزه........................................................ 1
ددې رسالې لوستونکيه!................................................. 1
ګرانه لوستونکيه!...................................................... 3
له وړکتوبه ترځوانۍ: .................................................. 6
اردن ته ورتګ او زنداني کيدل.......................................... 7
افغانستان ته دوهم ځلي هجرت ......................................... 8
په عراق کې جهاد...................................................... 9
د ابومصعب زرقاوي رحمه الله بيبياني..................................... 10
امت ته پيغام!.......................................................... 10
اى داسلامي امت اتلو ننګياليو!........................................ 11
د رسول الله صلى الله عليه وسلم گرانو امتيانو!........................... 14
اى صبرناکو او رښتيني مجاهدينو!..................................... 20
اى د اسلامي امت ځوانانو!............................................ 21
د ابومصعب الزرقاوي رحمه الله شهادت ................................. 23
دردونکى کيسه ........................................................ 24

## د ژباړن سریزه

ألحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين، وإمام المجاهدين، وقدوة الصابرين، نبينا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين، وعلى من اهتدى بهديهم واقتفى آثارهم إلى يوم الدين. وبعد...

## ددې رسالې لوستونکیه!

داسې مه ګڼه چې دا یوازې یو څو کرښې دي، چې الشیخ ابو مصعب الزرقاوي رحمه الله لیکلي دي او دې امت ته یې ډالۍ کړي دي، داسې هم مه ګڼه چې هغه خو ولاړ شهید شو او خبرې یې د هغه وخت غوښتنې وې او اوس هیڅ نشته، مګر دا دې د زړه پر پاڼه ولیکه، چې د حق او باطل جګړه، هغه مهال پیل شوه، چې کله الله تعالی د انسانیت د پیدایښت اراده وکړه، دا جګړې، جهادونه او غورځنګونه به تر هغه روان وي، څو چې دا ځمکه او اسمانونه همداسې بې ستنو ولاړ وي او څو چې ژوي پر دې ځمکه ګرځي، دا د اور او وینو مقابله به توده وي.
که د ابومصعب زرقاوي رحمه الله ژوندانه ته لږ ځیر شوو، نو یقیناً دا په ډاګه کیږي، چې دده د ژوند ټولې هلې ځلې، یواځې د (**اعلاء کلمة الله**) او د هغې کلمې د عملي کولو لپاره وه، د کومې لپاره چې په احد کې رسول کریم صلی الله علیه وسلم پر مبارک سر، مخ او صورت باندې ګوزارونه وخوړل، د کومې

لپاره چې ابوعبيده عامر بن الجراح ﷛ په بدر کې د خپل پلار سر له تنې بيل کړ، د کومې لپاره چې مهاجرينو خپل کلي، کور او کورنۍ، زامن او لونړې او د ژوند ټولې هستۍ پريښودلې او پرديو وطنونو ته يې هجرتونه وکړل...

دا ټول دردونو او کړاونه يې ددې لپاره وزغمل، څو راتلونکی امت په ارامې د اسلامي نظام تر سيوري لاندې ژوند وکړي او ټول اسلامي اعمال په ښکاره او ازاده ترسره کړای شي، دا ټولې يې ددې لپاره وګالل، څو دا امت له نورو ملتونو څخه وروسته پاتې نشي، دا يې ددې لپاره وکړل، چې سپين مخ د الله تعالی حضورته ودريږي، دا يې ددې لپاره وکړل، چې د الله تعالی نظام د الله تعالی پر ځمکه قايم او پلي شي...! او پر ټوله ځمکه الهي نظام حاکم شی او نور له ځانه جوړ شوی او باطل نظامونه ړنګ او د يو الله تعالی عبادت شروع شي.

شهيد ابومصعب زرقاوي﵀ چې کله د ځوانۍ منګ ته ورسيد، نو د الله تعالی د دين لاره يې غوره کړه، افغانستان ته راغی، دلته يې جهادونه وکړل او د روس له وتلو وروسته خپل ټاټوبي ته لاړ او د فلسطين د آزادي غوښتونکو مجاهدينو له ډلې سره يو ځای شو. وروسته يو ځل بيا افغانستان او بيا عراق ته لاړ او هلته د مجاهدينو مشري ورترغاړه شوه، ټول عمر، مال، اولاد، وخت، ځواني او هر څه يې د الله تعالی د لارې قرباني کړل، د شهيد زرقاوي﵀ له ژوند څخه دا راڅرګنديږي، چې د دنيا له ټولو خوندونو او لذتونو څخه د الله تعالی د دين حاکميت او امت له کړاونو، مشکلاتو او د هلاکت له کندو څخه راايستل ورته ډير مقدم و.

## ګرانه لوستونکیه!

دا دين موږ ته دومره په آسانۍ نه دی راغلی، لکه څنګه چې نن په ارزانه پلورل کيږي او لکه څنګه چې خلك پرې ګومان کوي! دا دين په ډيرو دردونو، کړاونو، زخمونو، زندانونو، سختيو او مشکلاتو سره راغلی او تر اوسه ساتل شوی دی، رسول الله ﷺ ددی دين او د خپل امت د عزت او وقار د ساتلو لپاره ډيرې قربانۍ ورکړي، هغه د يوې مؤمنې ښځې د پړې د لوځيدو په انتقام د هغه کافر ستونې څيرې کړ، چا چې ورته په بده سترګه کتلي و، د هغوی سترګې يې په هماغه ځای يې ورته ويستلي دي، مګر نن چيرته دي، هغه امتيان يې چې، د خپل رسول ﷺ سره د مينې او محبت په چيغو يې ستوني څيرې کړل؟ چې د خپلو خويندو او ميندو د پت او عزت د ساتلو او ګټلو لپاره راوړاندې شي او د صليب د بچيانو ستونې ورڅيرې کړي.

چيرته دي هغه د خالد او د زبير رضی الله عنهما بچيان، چې نن د سپينې مانۍ دا سره خنزيران په خيټو کې په نيزو ووهي او د اسلامي امت عفيفې او پاکلمنې لونې ترې راوباسي...؟؟!

والله چې ای د اسلامي امت ځوانانو!! زموږ او ستاسې په رګونو کې وينې نه! بلکې اوبه چليږي، والله زموږ په ژوند کې خير نشته! تر څو چې خپل له لاسه تللي برم، پت او عزت لپاره قربانۍ ورنکړو، والله زموږ په ژوند کې خير نشته، چې د الله تعالی دين او د هغه بندګان دې په ذلت او خوارۍ کې ژوند کوي او موږ دې ورته ګورو، والله بالله هغه پوښتنې ته ځواب نه لرئ! چې د الله تعالی رسول ﷺ به يې له تاسې

څخه کوي، چې اې زما ډارن امتي! چیرته وې هغه وخت کې چې زما لونې صلیبیانو او صهیونستانو له ځانه سره بیولې؟؟؟ مخکې تردې چې ورشئ، دغه سوال ته ځواب پیدا کړئ؟؟؟

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٨﴾

[سورة المنافقون]

ابواسحاق " **نجار**"

الحمدلله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذين اصطفى..!

د ځينو ورونړو د غوښتنې په اساس مې دا تکل وکړ، چې د استشهادييينو امير، د مجاهدينو لپاره غوره نمونه، موحد زمري، د عراق د اسلامي دولت بنسټ ايښودونکی، د صليب په مقابل کې د جهاد اعلان کوونکي او په همدې لاره کې د شهادت د ستر مقام ګټونکی مجاهد، ابو مصعب الزرقاوي رحمه الله د ژوند په لوړو او ژرو يو څه وليکم، تر څو د جهاد او شهادت د لارې مينه والو ته د لارې مشال وګرځي. هغه اوس هم ژوندی دی او هغه ته مړ ويل تيروتنه ده، دا ځکه چې الله تعالی په قران کې فرمايلي دي چې:

﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتَۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾

ژباړه: او په هغو خلکو د مړو ګومان مه کوه، چې د الله تعالی په لاره کې وژل شوي، بلکه هغوی د خپل رب سره ژوندي دي او روزي ورکول کيږي. [سورة ال عمران]

نو راځئ د شهيد ابومصعب رحمه الله په ځلانده ژوند باندې يو نظر واچوو، تر څو مونږ هم د برياليتوب لاره پيدا کړو او د خپل ژوند حقيقی موخې ته ورسيږو او د هغو خلکو په څير ونه اوسوو چې يوازې جسماً ژوندي دي مګر په حقيقت کې مړه دي.

## له وړکتوبه ترځوانۍ:

د شهید زرقاوي رحمه الله اصلي نوم (احمد فضیل نزال الخلالیه) دی، د ۱۹٦٦ میلادي کال د اکتوبر پر۲۰مه، د زرقاء په ښار کې چې د اردن دوهم لوی ښار یادیږي، په یوه غریب مشته کلي کې چې (معصوم) نومېږي، دې فاني نړۍ ته یې سترګې وغړولې. د زرقاء د ښار اکثره اوسیدونکي فلسطیني مهاجرین دي.

ابومصعب زرقاوي رحمه الله د علي بن ابی طالب رضي الله عنه په څیر د خپل قوم قبیلې پلار او نیکونو د ناوړو عقیدو او تعصبونو پر خلاف په رسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان راوړ او د هغه د کاروان ملګری شو، دې هم د خپلې قبیلې پر خلاف، چې بني حسن نومېده، حقه لاره غوره کړه، حقیقي او سپیڅلې تګلاره یې د ځان لپاره وټاکه، چې هغه د الله تعالی په لاره کی جهاد دی.

شهید زرقاوي رحمه الله په ماشومتوب کې له غریبۍ نه ډک ژوند درلود او د هغه د ماشومتوب زیاتره ملګري او دوستان فلسطیني ماشومان وو.

ابومصعب رحمه الله د ناداری او فقر له امله ونشو کړای، چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، هماغه و، چې د ښوونځي په دویمه دوره کې یې ښوونځی پرېښود.

هغه د ځوانۍ په پسرلي کې د خپلې کورنۍ له یوې انجلۍ سره واده وکړ او له هغې څخه الله تعالی څلور اولادونه: دوه زامن او دوه لورګانې ورکړی، چې نومونه یې محمد، مصعب امینه او روضه دی او خپله کنیه یې هم د وړوکي زوی، مصعب له نوم څخه کیښوده او ابومصعب شو.

ابومصعب رحمه الله د ځوانۍ په وخت کې پر مادياتو پسې و او بې پروا ژوند يې تېراوه، د يوې مياشتې لپاره يې په ښاروالۍ کې کار وکړ، خو هلته هم ډېر وخت پاتې نشو او وظيفه يې پرېښوده. له واده څخه وروسته چې کله د کورنۍ غړي يې په ډېريدو شو، نو ورځ تر بلې يې د ژوند لوری هم بدليده او اکثره وخت به يې د خپل رب په عبادت او ياد او د هغه د حکمونو په پلي کولو کې د خپل کلي په دارالفلاح (جومات) کې تيراوه.

د ابومصعب زرقاوي رحمه الله د ژوند لورې بدلون او ديني رنګ اخيستل له هغه وخته راپيل شو، چې کله روسانو پر افغانستان يرغل وکړ او هغه د جهادي ګوندونو تر تاثير لاندې راغی، خپل کور، کلی او کورنۍ يې پرېښوده، د جهاد او سربښندنې ډګر، افغانستان ته راغی.

شهيد زرقاوي رحمه الله هغه وخت افغانستان ته راورسېد، چې کله جهاد له روسانو سره په وروستيو مرحلو کې و، نو له مولوي جلال الدين حقاني حفظه الله او ګلبدين حکمتيار سره يې د روسانو خلاف جهاد پيل کړ.

## اردن ته ورتګ او زنداني کېدل يې

د شوروي له وتلو سره سم چې کله د مجاهدينو ترمنځ خپلمنځي اختلافات پيل شول، ګواکې همدا د زرقاوي رحمه الله د رنځوره کيدو سبب وګرځېد او تصميم يې ونيو، چې بېرته خپل ټاټوبي ته راستون شي.

کله چې خپل هيواد ته راوګرځېد، نو بيا يې هم د شهادت، جهاد او قربانۍ جذبه ارام ژوند ته پرې نښوده او عزم يې وکړ، تر څو له فلسطيني ورونو سره چې د اسرائېلي اشغالګرو پر ضد يې جهاد کاوه،

لاس نیوی او مرسته ورسره وکړي، نو پریکړه یې وکړه، چې یو څو میله وسلې له اردن څخه فلسطین ته ولیږدوی، هماغه و چې د ځینو ملګرو په مرسته یې دا کار وکړ، خو د اردن د مرتدو اطلاعاتي شبکو له لوري ونیول شو او زنداني کړای شول.

زندان د شیهد ابومصعب زرقاوي رحمه الله د معنویاتو د پیاوړتیا لپاره ځانګړی مدرسه وه، ځکه هلته یې د مجاهدینو له معنوي رهبر الشیخ ابو محمد المقدسي حفظه الله سره لیده کاته وکړل او له هغه سره یې پر امامت بیعت وکړ.

د محاکمې پر مهال ابومصعب رحمه الله او د هغه ملګرو د اردن حکومت کافر وباله او حتی دې ته هم حاضر نشول، چې د خپل ځان لپاره مدافع وکیل ونیسي، مګر څه موده وروسته چې د اردن حاکم عمومي عفوه اعلان کړه، نو دې هم له ملګرو سره ازاد شو.

## افغانستان ته دوهم ځلې هجرت

له زندانه له راخلاصیدو وروسته شهید زرقاوي رحمه الله پریکړه وکړه، چې د جهاد د ګرمو سنګرنو او د حق د لارې له کاروان سره اوږه په اوږه د کفارو په مقابل کې یو ځل بیا جهاد پیل کړي، نو بیا یې افغانستان ته هجرت وکړ. له هجرت څخه وروسته یې په هرات کې جهادي اردو رامنځته کړه، خو له صلیبیانو سره د جګړې لپاره نوی نیالګي وروزي.

د سبتمبر په یوولسمه چې کومه نړیواله حمله ترسره شوه، له هغې وروسته د طالبانو او القاعدې مشرانو په کندهار کې یوه ناسته وکړه، چې دې ناستې ته یې ابومصعب زرقاوي رحمه الله هم راغوښتې و، مګر له

ناستې څخه مخکې امريکايانو هغه ځای بمبار کړ، چې ډير مجاهدين هم پکې په شهادت ورسېدل.
پر افغانستان د صليبيانو له يرغل څخه وروسته ابومصعب ﵀ عراق ته ستون شو.

## په عراق کې جهاد

عراق ته له داخلېدو وروسته د (جماعة انصار السنة) په نوم ډلې سره، له پخواني ملګرو په شمول يو ځای شول، چې ددغې ډلې ډېر مجاهدين د امريکايي وحشيانو په بمباريو کې شهيدان شول.
کله چې صليبي ښکيلاکګر (امريکا) له خپلو متحدينو او لاسپوڅو عربو سره يو ځای پر عراق يرغل وکړ، شهيد ابومصعب زرقاوي ﵀ له خپلو ملګرو سره يو ځای د صليبي يرغلګرو په ښکار پيل وکړه. ابو غيداء السوري چې په سوريه کې د غاښونو ډاکتر و، د زرقاوي ﵀ له جهادي خوځښت څخه يو منظم او پياوړی فوځ جوړ کړ.
ابومصعب ﵀ چې له الشيخ ابومحمد المقدسي حفظه الله سره ځانګړې مينه درلوده، نو له همدې امله يې د انټرنيټ په پاڼه کې د خپلې ويب پاڼې نوم (جماعة التوحيد والجهاد) کيښود.
الشيخ اسامه بن لادن ﵀ ابومصعب زرقاوي﵀ د عراق د مجاهدينو امير وټاکه او کله چې مجاهدينو او د جهاد مينه وال خبر شول، نو له هرې خوا څخه عراق ته راغلل او د ابومصعب ﵀ تر قومندې لاندې يې جهاد ته ملا وتړل او ابومصعب زرقاوی ﵀ د عراق

د اسلامي دولت پښنې نورې هم کلکې او مضبوطې کړې، وروسته بیا همدغې ډلې د (تنظیم القاعدة فی العراق) په نوم شهرت واخیست.
شهید زرقاوي رحمه الله له صلیبي یرغلګرو او د هغوی له تالې څټو روافضو سره هر اړخیزه جګړه پیل کړه، چې صلیبیان یې په ځان پورې حیران کړل اولارې ګودرې یې ترینه خطا کړې.

## د ابومصعب زرقاوي رحمه الله بیبیاني:

لکه څنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، چې د ځوانۍ پر مهال یې د خپلوانو له یوې انجلۍ سره واده وکړه او له هغې څخه الله تعالی څلور اولادونه ورکړل او بیا یې په افغانستان کې د خپل یوه ملګري له خور سره واده وکړه او د عراق په فلوجه ښار کې یې له یوې بلې عراقۍ سره هم واده وکړه.

# امت ته پيغام!

## د شهيد زرقاوي رحمه الله د وينا پښتو ژباړه:

الحمدلله معز الاسلام بنصره، ومذل الشرك بقهره، ومصرف الامور بامره، ومستدرج الكافرين بمكره، الذى قدر الايام دولا بعدله، والصلاة والسلام على من اعلى الله منار الاسلام بسيفه.

ټولې ستاينې يواځې يو الله تعالى لپاره دي، چې اسلام ته په خپل نصرت سره عزت ورکړ او په خپل قهر د شرك او کفر ذليله کوونکى دى او ټول کارونه په خپل امر سره پر مخ بيايي او کافران په خپل تدبير سره هلاکوي، الله تعالى هغه ذات دى، چې د (دنيا) ورځې د خپلو بندګانو ترمنځه په عدل تيروي او درود او سلامتيا دې وي، پر هغه (پيغمبر) چې الله تعالى د هغه د تورې له زوره د اسلام مناره لوړه شوه...!

### اى د اسلامي امت اتلو ننګياليو!

زه تاسې ته هغه خبره کوم، چې د تيروتنې لامل نه ګرځي، تر څو په تاسې کې اوريدونکي غوږونه او پوهېدونکي زړونه پيدا کړم او يقينا څوك چې د جهاد په صف کې جنګيږي، هغه هيڅکله دروغ نه وايي.

صليبي دښمن چې کله د عراق پر مظلومه ځمکه حمله وکړه، دوی داسې هوډ درلودل، چې پر ټوله اسلامي امت باندې مسلط شي او خپلو بچيانو (صهيونستانو) ته لوی هيواد له نيله تر فراته تر خپلې ولکې لاندې پرېږدي، ليکن د امت سرښندونکو ځوانانو په ډېر شهامت او زړورتيا د خپلو سرونو د قربانۍ او سرښندنې ډګر ته راودانګل او خپلې سينې يې د دوي مخې ته سپر کړل او الله تعالی همدې مجاهدينو ته د صليبي يرغلګرو د سختو حملو په مقابل کې د مقاومت توفيق ورکړ او خپل نصرت مرسته يې ورسره شامل حال ورګرځاوه.

څه دپاسه يوولس کاله کېږي، چې مجاهدين د صليبيانو وحشيانه حملو ته د فولادي غرونو په څير د مبارزې په ډګر کې ولاړ دي او په دغه لاره کې يې له هيڅ قسمه قربانۍ څخه دريغ نه دی کړی، تر دی چې له خپل ځان، مال، وخت، او د ژوند ټول خوندونه، لذتونه او خوښۍ قرباني کوي او په دغه لاره کې دوي له ډېرو سختو نظامي، سياسيٍ، اقتصادي، استخباراتي او تبليغاتي لنډه دا چې هر اړخيزو حملو سره مخ دي او دښمن خپل ټول اورګانونه او حربې په کار اچولي.

**اې لوستونکيه! دا ټول غمونه دردونه او زندانونه زغمل، ستا د اولادونو، پت، عزت او ناموس څخه د دفاع په خاطر دي، ستا د دين، قران، اسلام او ګران پيغمبر ﷺ څخه د دفاع لپاره دي او همدا سرښندونکي دي، چې ستا په محرماتو باندې غيرت کوي،** الله عزوجل د خپل لښکر په ايماني قوت سره کفار مات کړل، د هغوی ډلې او سازمانونه يې ددې کمزوري مجاهدينو په لاس تس نس

کړل او هر عاقل انسان چې سترګې لري او د حق او باطل ترمنځ توپیر کولې شي، د دوي شکست او ماتې ویني، د دښمن په لیکو بریدګر یا به ستا ورور یا زوی او یا پلار وي، دا ټول د همدې ملت بچیان دي، چې د الله تعالی په فضل او کرم سره د جګړې په ډګر کې د نظامي کارونو واګې په لاس کې اخلي.

که چېرې پر رسنیو او میډیا باندې غربي سانسور نه وای، نو تاسې به حتماً د مجاهدینو له خبرونو څخه حیرانېدلې، قسم مې دی په الله تعالی وي، چې دا جګړه په حقیقت کې هغه د اتلولیو جګړه ده، چې خوږ نسیم موږ ته د شهادت او د جنت خوږ بوي رالېږي. نو ای امته! پر تاسو لازمه ده، چې د خپل رب او پالونکي ذات شکر وباسئ، د هغه عزوجل ستاینې او لمانځنې ادا کړئ او هغه پر دغه لوی نعمت وستایئ.

الله تعالی ستا د بچیانو او ورونو یوه ډله تیاره کړې، چې ستا له دین، پت، عزت، ناموس، غیرت او خاورې څخه دفاع وکړي او ستا کور وساتي، که چېرې دا نعمتونه نه وای، نو ټول اسلامي امت به د صلیبي وحشیانو او روافضو شیعه ګانو تر تسلط لاندې وای، د مسلمانانو د ښځو عزت به د صلیبي استعمارګرانو په لاس کې وای، له ابوغریب او داخلې وزارت د زندانو اوریدلي او لیدلي کیسې مو هیرې نه دي.

## د رسول الله ﷺ ګرانو امتیانو!

مورږ په عراق کې د تیرږي د اچونې په اندازه له رسول الله ﷺ سره نږدې اوسېږو او همدلته جنګېږو، خو سترګې مو د بیت المقدس لوري ته دی دا هغه ځای دی، چې بیرته نیول یې هیڅ امکان نه لري، مګر په قران کریم او تورې سره چې دواړه غوره مرستندویان دي، نو مورږ له هماغه رب څخه مرسته غواړو، چې پوره هدایت کوونکی او مرستندویه ذات دی.

غمونو، دردونو، کړاونو، مشکلاتو، ورځو او تجربو دا راجوته کړه، چې له الله تعالی څخه وروسته همدا ستاسې مجاهد بچیان دي، چې ستاسې مرستې او مدد لپاره راوړاندې شوي دي، دا ستاسې هغه ساتونکې ډال او کلکه قلا ده او هغه بااحساسه او دردیدونکې زړه ده، چې ستاسې په خوښۍ خوښ او پر غمونو اوښکې تویوي، ستاسې له غمه شپې ویښ تیروي او زړونه یې ستاسې له درده څریکې وهي او تل خپل رب ته لاس په دعا وي چې: (یا الهي، دا ذلت او ظلم مو له دغه مظلوم امت څخه لرې کړه او له لاسه تللې برم او عزت راته بیا راکړه)

امریکایي اداره چې په سر کې یې د بوش صلیب راځړیږي، ده او دده نورو یهودي، صلیبي او رافضي تړونخیلو ته چې پر ده راټول شوي دي، دا وایم چې: **هېڅکله به تاسې د اسلام له خاورې څخه خوند ونه څکی، قسم په الله عزوجل! چې تر څو مو رګونو کې وینې**

**چلېږي او په بدن کې مو روحونه وي، د اسلام په خاوره کې به په خوښۍ او ارام ژوند ونه کړئ.**

زمونږ امير او مشر شهيد اسامه بن لادن رحمه الله تاسې او ستاسې ائتلافيانو ته د اوږد مهاله اوربند وړانديز وکړ، مګر په هغه وخت کې ستاسې کبر او لويي تاسې له دی کار څخه منع کړ. مګر نن د الله تبارك وتعالی په فضل سره کله ختيځ او کله لويديځ ته د پناه لپاره منډې وهئ، په داسې حال کې چې ماتې خوړلي ياست، سرګردانه او په خپل کار پښېمانه ياست، لکه شيطان چې يو انسان مايوسه کړي.

تاسې ډېر دروغجن ياست، خپل ملت او پيروانو ته دروغ وايئ او هغوي تيرباسئ، او تاسې د مجاهدينو د مرګوني ګوزارونو لاندې ګير شوي ياست، خپل ملت ته د درواغو تسلي ورکوئ، چې حالت زمونږ په ولکه کې دی، ستاسو ملت ستاسو په درواغو پوه شوي دي. ستاسو حال د هغه چا په څېر دی، چې شراب څښي او غواړي چې د شراب څښلو څخه ځان وژغورې!! تاسو له خپل ځان او ملت سره يوه شيبه هم ريښتيني نه يئ، په داسې حال کې چې ستاسې په نيکونو کې داسې خلك شته وو، چې تر يوه حده يې ريښتيا ويل، خو تاسې له هغې هم بې برخې يئ!! **ولې د خپلو عسکرو حقيقت او د هغوی د معنوي مورال د لوېدو څخه انکار کوئ او نه يې ښکاره کوئ؟** څو ملت ددغې جګړې له حقيقت څخه خبر شي، ولې ملت د خپلو عسکرو د ورځ تر ورځې له زياتېدونکې خودکشۍ څخه نه خبروئ؟؟ ولې هغوی ته نه وايئ چې عسکر دې تر څو د عقل د زائله کيدو او تخدير درمل

ونخوري، تر هغه خوب نه ورځي او کله چې يې وخوري، نو بيا لکه د چارپايانو په څير منډې وهي او انجيلي او صهيوني جنرالان يې بيا د ځان وژنې ځايونو ته راکش کوي؟؟!!

اې شريره او درواغجنه غربي نړۍ! پوه شه هغه خوبونه چې تا ليدلي او غوارې چې هغه رښتيا کړې، تر مخه يې ډيرې وينې او جسدونه پراته دي او راتلونکې به يې ان شاء الله د الله تعالى په مرسته له دې نه هم سخت وموميځ، تاسې خپله خبيثه ډيموکراسي، د عراق د اتلانو ځمکې ته راوړ او خلکو ته پر مادياتو د خپلواکۍ او نيکمرغۍ زيري ورکوځ، تا له يموکراسۍ سره به الله تعالى په خپل فضل داسې ورکه کړي، چې له خلکو به يې نوم او نښان هم هير شي.

نن غواړئ! چې له هرې لارې او د خپلو اجيرانو، مزدورانو، مرتدانو او منافقانو څخه ګټه واخلئ، هغوی راټول کړئ او يو داسې مفسد حکومت جوړ کړئ، چې تاسې د هلاکت او رسوايې له مرګونې کندې څخه راوباسي، په کومه کې چې تاسې د خپل ملت او پيروانو مخې ته د خلاصون لپاره لاس او پښې وهئ! موږ پر دې کلک يقين لرو، چې که هر هغه حکومت چې په عراق کې د رافيضي شيعه ګانو، سيکولر کردانو او هغو خاينو اهل سنتو چې د صليبيانو مزدوران دي، جوړ شي هغه به د اسلامي امت په زړه کې د يو زهرجن خنجر په څېر وي او تاسې دا ارمان به له ځانه سره ګور ته يوسئ.

امريکا او ائتلافيان يې پر دې پوه شوي دي، چې دوی د خپلو طيارو، ټانګونو او توپونو له لارې نشي کاميابيدای، نو پر همدې اساس يې

داسې پلان جوړ کړل، چې د جهاد او مجاهدینو پر ضد یې وکاروي او دی موخې او مقصد ته د رسیدو لپاره یې له اجیرو اهل سنتو څخه د رسی په ډول کار واخیست، تر څو امریکا د هلاکت له دغې کندې څخه وژغوري او امریکا په دې لاره کې له هغه چا څخه ډېر کار اخلي او هغه څوك یې ډېر درد ته دوا کېږي، چې په ظاهره د اسلام چغې وهي او په پټه د کفارو د ګټو ساتندویان وی، نو دوي خپل ناوړه اعمال د هغوي تر شاه پټوي، دا خاینان د خپلو بادارانو په اشاره د پولیسو او اردو د تشکیل چغې وهي، ساده مسلمانان په خبرو سره تیر باسي. مګر دوی په شاتو کې زهر ګډوي، خو دا یې له یاده وتلي دي او یا خپل ځان په تغافل او تجاهل کې اچوي، چې هر ښکیلاکګر د نیول شوي هیواد له داخل څخه یو اجیر او غلام پر هغه ملت ګومارلي دی، تر څو د دوی ارمانونه ربښتیني کړي، د ملت سرمایه لوټ کړي او د هغوي ارمانونه پوره کړي، مګر دا خوبونه یې هیڅکله نه دي رښتیا شوي.

الله عزوجل فرمايي: ﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۝٥١﴾ [سوره المائدة]

ژباړه: او چا چې له هغوی (کفارو) سره ملګرتیا ورکړه، نو هغه بې شکه له هغوی وګڼل شو. همدارنګه الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا۟ خَٰطِـِٔينَ ۝٨﴾ [ سورةالقصص]

ژباړه: حقیقت دا دی چې فرعون، هامان او د هغوی لښکری له خطاء کارانو څخه وو.

موږ خپل اعلان بیا تکرارو، هر هغه څوك چې د اردو او پولیسو په جوړولو او رامنځته کولو کې برخه اخلي او د اشغالګرو اهدافو او موخو

د سرته رسولو او د کفري قوانینو د پلی کولو لپاره کوښښ کوي، باید له دی کار څخه لاس واخلي او څوك چې دی ارګانونو ته داخلیږي، **قسم مې دې په الله رب العزت وي، چې ده لپاره له تیرې توري بل څه نه لرم او زموږ او د دوی ترمنځ هغه جګړه ده، چې له زوره یې د ماشومانو تور ویښتان سپینیږي.**

الله تعالی فرمایي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ٧٦﴾ [سوره النساء]

ژباړه: چا چې ایمان راوړی دی، هغوي د الله تعالی په لاره کې جنګیږي او هغه خلك چې کافران شوي دي، د طاغوت او شیطان په لاره کې جنګیږي، نو د شیطان له ملګرو سره وجنګیږئ او یقینا چې د شیطان مکر او تدبیر ډېر کمزوری دی.

د دښمن او ددوی د فاسدو جنګي وسایلو له ښکاره ماتې سره هم اوس غواړي، چې د خلکو دوه ډلې دې نمایشي پارلمان کې کینوي، څو د مجاهدینو د جهاد ثمره له منځه یوسي، هغو مجاهدینو چې د **الله تعالی** پر ځمکه د **الله** نظام غواړي.

لومړی ډله غواړي چې له مجاهدینو سره ځان یو ځای کړي او ځان د هغوی مرستندویه ښکاره کړي، په داسې حال کې چې د جهاد په لومړیو ورځو کې پر دوی سختي نه و راغلی او نه هم د جهاد په تودو سنګرونو کې دومره کړاونه و او دوهمه ډله هغه وه، چې له صلیبیانو سره یو ځای په دغه جګړه کې برخه درلود. د انسان اعمال د هغه په خاتمې

پورې تړاو لري او ددوی اعمال شرعاً نیک نه دي او تر هغه به نشي تر څو چې دوی د **الله تعالی** د کلمې د لوړوالې لپاره د سر، مال او خوږ ژوند قربانۍ ته تیار نشي.

کوم نظام چې **الله تعالی** رالیږلي، هغه شرعي قوانین دی او اوسنې شرکي، کفري او پارلماني نظامونه هیڅکله الهي نظام نشي کیدای، دی کې الهی قوانین په وضعي قوانینو بدلیږي او که چیرې دوی وایي چې موږ غواړو د پارلماني قوانینو له لارې شریعت حاکم کړو، نو ددوی دا دعوا دراوغ دی او که چیرې څوک د عراق پارلماني تاریخ ته ځیر شي، نو دا به ورته جوته شي، چې اکثره همدا روافض، سیکولر کردان او سنیان په پارلمان کې ناست وو او همیشه دوی برلاسي و او د پارلمان اکثره چوکۍ ددې طواغیتو په لاس کې وو.

**الله تعالی** فرمایي:

﴿وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ ﴿٤٩﴾﴾ [سورةالمائد]

ژباړه: او ځان له هغوي څخه ساته، هسې نه چې کوم احکامات چې **الله تعالی** نازل کړي، تا په فتنه کې راګېر نه کړي.

بل ځای **الله تعالی** فرمایي:

﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦۖ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا﴿٦٠﴾﴾ [سورة النساء]

ژباړه: آيا تا هغه خلك نه دي ليدلي، چې بيشكه هغوي په هغه كتاب چې تاته نازل شوی او پر هغه كتاب چې له تا څخه مخكې نازل شوی دی، ايمان راوړی دی، مګر غواړي چې طاغوت ته پريكړه وړاندي كړي او حال دا چې دوي ته امر شوی دی، چې له طاغوت څخه انكار وكړي او شيطان غواړي چي دوي بې لارې كړی په لرې بې لاری سره!!

## ای صبرناكو او رښتيني مجاهدينو!

**الله تعالى** دې زمونږ او ستاسې نيک اعمال قبول كړي، **الله تعالى** دی په جهاد او رباط كې راته بركت واچوي، تاسې د **الله تعالى** په فضل او لورينې سره د اسلامي امت پر لور د صليبيانو پرمختګ په ټپه ودراوه او ډېرې ضربې مو ورته وركړې، هغوی په داسې حالت كې دي، چې هيڅوك د داسې حالت هيله او تمه نه كوي، جهاد ته مو ادامه وركړئ، **والله** دا د دوی ماتې او شكست څرګند دليل دي او له دې څخه وړاندې چې په عراق كې د خپلې ماتې اعلان وكړي، نظامي عملياتو او بريدونو ته مو نور هم زور وركړئ دا يې د ساه وتلو وروستۍ سلګۍ دي.

په صليبي لښكرو كې د ماتې خوړلو نښې راښكاره شوې دي، خپل نيتونه پاک كړئ او باطن مو اصلاح كړئ، پر دښمن باندې زوروري حملې وكړئ، د دښمن ملاتړ كمزوری كړئ، هڅوكې يې ورمات كړئ، دا قيمتي موقع له لاسه مه وركوئ، چې تازه ساه واخلي او ضربې مو يو په بل پسې زياتې كړئ.

نو ای د **الله** لښکره سپاره شئ!! او ای د بیرغ اخستونکو ودریږئ!! چېرته دي د انبار ولایت زمریان؟ چېرته دي د صلاح الدین زمریان؟؟؟ چېرته دي د بغداد صف ماتونکي؟؟؟ چیرته دي د نینوا سرښندونکي؟؟ چېرته دي، د دیالې اتلان او توریالي؟؟؟ چېرته دي د کردستان شهسواران؟؟؟ او چیرته یاستی تاسې ای د توحید زمریانو؟؟؟ چیرته یاستی ای د خالد، مثنی، سعد رضی الله عنهم، مقداد او صلاح الدین بچیانو؟؟!!! چېرته دي مهاجر او انصار؟؟ چېرته دي د انفال او توبې خاوندان؟؟؟ او چېرته دي د دوه سورتونو فتح او قتال خاوندان؟؟؟!!!

## ای د اسلامي امت ځوانانو!

څوك به د دغو كونډو غږ واوري؟ څوك به دغه زنداني خویندې د صلیبیانو له وحشي زندانونو څخه راخلاصې کړی؟ او څوك به پاكلمنې ښځې د خبیثو رافضیانو له تورو زندانونو څخه راخلاصې کړي؟؟؟!!

ای **الله!** مونږ ددنیا پر ژوند د آخرت تلپاتې ژوند غوره ګڼو، نو دی انصارو او مهاجرینو ته بری او کامیابي په برخه کړی؟؟ ای مجاهدینو! د وحشي او اسلام دښمنه صلیبیانو څخه په کلکه بېزاره اوسئ! دوی هغه څوك دي، چې ستاسې پر ضد شوم پلانونه جوړوي! وسله مو هیڅکله پر ځمکه مه ږدئ او **الله** مکړه که دا کار مو وکړ، په هماغه ساعت به پښیمانه یاست، د دنیا او اخرت شرمندګې، رسوایي او ذلت به در په برخه شي. تاسې به شپه او ورځ دا دعا کاوه، چې په افغانستان او یا

چيچنيا کې درته **الله تعالی** د جهاد دروازې خلاصې کړي، مګر دادی اوس ستاسې په خپل کور کې **الله تعالی** تاسې ته د جهاد تجارت برابر کړ او تاسې يې ددغه کار لپاره اختيار کړی ياست او دا د جنت دروازه يې تاسو لپاره خلاصه کړه.

نو ای مجاهدينو! هسې نه چې دا دروازه مو په خپلو ګناهونو بنده کړئ او د هغې ښځې په څير شئ چې اوبدل يې کول او په آخر کې هيڅ هم په لاس ورنغلل.

که چېرې دا د جهاد بازار مو له هيواد او خاورې څخه ګډه وکړه، نو **الله تعالی** به د ذلت او رسوايۍ خيمې پر تاسو ودروي او تر ټولو ذليل خلك به پر تاسو مسلط کړي او تاسو ته به سخت تکليفونه، دردونه او عذابونه درکړي، اولادونه به مو قتل کړي او ښځې به مو په زندانونو کې پرتې وي او خپل ژوند به پر تاسې جوړوی، **الله تعالی** فرمايي:

﴿وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم ٣٨﴾ [سورة محمد]

ژباړه: که له جهاد څخه مو مخ وګرځاوه، نو **الله تعالی** به ستاسو پرځای نور خلك را مخې ته کړي او هغوی به ستاسو په څير نه وي.

**او په پای کې خپل عزتمند امت ته په عراق کې د مجاهدينو د شوراء په تشکيل زيری ورکوم، چې له دې لارې به په عراق کې اسلامي دولت ټينګ شي، چې يواځينې موخه به يې د الله تعالی د کلمې لوړوالې ده.**

د **الله تعالی** د ستاينې ځای دی، چې زموږ کوښښونو ته لاره ورکوي او لاسونه يو بل ته سره رسوي، تر څو له يو بل سره د **الله تعالی** او د هغه د رسول ﷺ په تابعداری او د جهاد په اغزنه لاره کې کوښښ وکړي.

دا شوری به د هر رښتيني مجاهد لپاره د امن او عزت چتر ګڼل کېږي او زما لپاره د عزت ځای دی، چې زه د دې مبارکې شوری له غړو څخه يم او مشري يې زما په اوږو بار ده، چې په عراق کې د القاعدې د تنظيم امير بلل کېږم.

خادم الجهاد و المجاهدين المعتز بالله تعالی

ستاسې ورور ابو مصعب الزرقاوي رحمه الله

د جمعې ورځ، د ربيع الاول ۲۳ ، ۱۴۲۷ کال،

اپريل ۲۰۰٦ ميلادي

## د ابومصعب زرقاوي رحمه الله شهادت

د جهاد او سرښندنې له ډيرو مشکلاتو، کړوانو، دردونو، زندانونو، بمباريو او يوه سپيڅلې موخې ته د رسيدونکی کاروان څخه په نيمه لاره کې پاتې شوی، الشيخ ابومصعب الزرقاوي رحمه الله په ۲۰۰٦ ميلادي کال د عراق د بعقوبې ښار، په ۸ کيلو متری کې د صليبي وحشيانه بمباريو په ترڅ کې د شهادت په لوړه مرتبه عزتمند شو.

(إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ) **الله تعالی** دې د يوويشتمې پېړۍ دغه د اسمان د پراخه ټټر ځلانده ستوری شهادت قبول کړي. آمين

## دردونکی کیسه

د حق د لاری سپیڅلي شهید د وروستیو کلماتو معجزانه کیسه ده، چې د هغه ګاونډي احمد محمد کړی، تاسي ته دده د حقانیت ثابتولو لپاره رانقلوو.

احمد وايي: هغه ځای کي چې ابومصعب زرقاوي رحمه الله اوسېده، د خرما او نورو محصولاتو د خرڅلاو ځای و، دا کور او باغ چې خاوند يې د ابوعمر په نوم پر یوه کس چې د بغداد اوسېدونکی و، په ۷۰ میلیونه دینار پلورلی و او دا خرڅلاو دده له شهادت څخه ۱۲ ورځې وړاندی شوی و، تقریباً د سهار ٦ بجې وې، چې پر همدغه کور دوه راکټونه ولګېدل او باغ په بشپړه توګه لمنځه ولاړ. ۱۰ دقیقې وروسته له هغه ځایه ډېر زیات ګرد پورته شو، نو زه، زما ورور او د تره زوی مې ژر هغه ځای ته ورغلو او څو مړي مو هلته ولیدل، یو کس مې ولیده، چې پښې يې پرې شوې وې او یوه بل شهید مې ولیده، چې ټوټې ټوټې شوې و، دوه ښځې مې هم ولیدې، چې شهیدانې شوې وې، موږ پر نورو مړو ګرځېدو، چې که څوك ژوندی پیدا کړو، ناڅاپه ورور مې چیغې کړې چې د یوه نفر غږ راځي!!!...

هغه ځای ته مو منډې کړې، له کوم ځای نه چې غږ راتلو، ناڅاپه مې سترګې په ابومصعب ولګېدې، هو هغه ابومصعب الزرقاوي رحمه الله و، تر اوسه مې هغه نه و لیدلی، مګر په رسنیو او اخبارونو کې مې هغه ډېر لیدلی و او ومې پېژانده. هغه مې داسې حال کې وموند، چې سترګې يې د اسمان لوري ته وې او ګوتې يې پورته کولې او دا جمله يې ویلې:

**اللَّهُ اکبر ... اللَّهُ اکبر ... لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ الرَسُولُ اللَّه- أشهد أن لا اله إلا اللَّهُ وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.** او ښکلې ږیره یې په خاورو ککړه شوې وه او اوږده ویښتان یې لرل، بیا مې هغه راپورته کړ او کله مې چې راپورته کړ، په هغه وخت کې یې له مخ او سینې څخه وینې روانې شوې او دا احساس راته وشو، چې ملایې ماته ده، بیا یې پر څېره نرۍ موسکا ښکاره شوه او بیا یې ویل: **لا اله الا اللَّهُ وحده لا شريك له وأن محمدا عبده ورسوله.** په دې وخت کې د امبولانس موټر سمدستي راورسېدل او هغوی ته مو وویل: چې هلته یو کس دی چې حالت یې ډېر خراب دی او کومك ته ډېره اړتیا لري، هغوی مو پردې خبر نکړل چې دا کس ابومصعب الزرقاوي دی، وروسته له څو دقیقو څخه امریکایي ځواکونه راورسېدل، په دی وخت هغه مو په زخمي حالت انتقالوه، چې کله هغوی ولیدو نو فوراً یې هغه له مونږ څخه واخیست او پر ځمکه یې کېښود او ده همدا ذکر کاوه او پر شونډو یې نرۍ موسکا وه او سترګې یې د آسمان لورې ته وې.

امریکایان په خپلو منځو کې وغږېدل، زه پوه شوم، چې دوی پیژندلي دي، دوي ټول شل نفره عسکر وو، چې مړي او زخمیان یې محاصره کړي وو او ابومصعب یې هر لوري ته چې غوښتل یې اړاوه او ښکته پورته کول، ما د هغه غږ اورېده چې ویل یې:

**أشهد أن لا اله إلا اللَّهُ وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.**

په دې وخت کې امریکایي عسکرو د هغه په مخ او بدن د بوټانو او سوکانو ګوزارونه پیل کړل او په دی وخت کې یې ځان خپل پالونکی **الله**

ته تسليم کړ او نورې جنازې يې روغتون ته يوړې، بيا زه، زما ورور او د تره زوې مې ټول امريکايانو ونيولو او له ځانه سره يې بوتلو او د شهيد ابومصعب رحمه الله جنازه يې په هليکوپټر کې يوړه.

احمد محمد دا دردونکی کيسه داسې پای ته ورساوه او ويل: زه دا کيسه کوم او د **الله عزوجل** په وړاندې د آخرت په ورځ د خپلو خبرو مسؤول يم او له هيچا څخه نه ويرېږم او ټول خلك مې پېژني، که هر چا راڅخه پوښتنه وکړه نو زه به دا حقيقت ورته بيانوم.

په آخر کې زه له خپل ګران او مجاهد ورور(ابوزيد)څخه يوه نړۍ مننه کوم، چې ماته يې د شهيد زرقاوي رحمه الله دغه رساله راکړه او له **الله تعالی** څخه ډېر زيات شکرګزاره يم، چې ددې لنډې مګر د معنې له لحاظه ټولې اسلامي نړۍ ته د جهاد، قربانۍ، سربښندنې او يوه اسلامي دولت د راتلو پيغام له ځانه سره لری، د ژباړې توفيق يې راکړ، هيله لرم چې د شهيد ابومصعب الزرقاوي رحمه الله دا وروستې وصيت پر ټول اسلامي امت کې يو نوی روح پو کړي او يو ځل بيا يې د نينوا او قادسيې پر ميدانونو ودروي، يو ځل بيا ابودجانه راپيدا کړي، چې سرې پټې سره د ابوجهل، عتبه، شيبه، وليد او نورو عصري طواغيتو په سر پرې کولو کې له جرئته ډک قدمونه اوچت کړي.

د يوه خپلواک او اسلامي دولت په هيله- ستاسې ورور

ابو اسحاق "**نجار**"

۱۴۳۲ هجري د ذوالحجې۲۰ شلمه

Daar-ul-Sedq

## هغه کرښې چې په وینو لیکل شوی دی

مونږ دلته دیو موتی خاوری او یا د هغو بې معنا سرحدونو لپاره چې سایکس اوپیکو رسم کړي نه جنګیږو، او همدارنګه ددې لپاره هم نه جنګیږو چې عربي ګمراهان د غربي ګمراهانو ځاي ونیسي، بلکې زمونږ جهاد تردې لوړ او ښایسته دي، مونږ د کلمة الله د لوړ والي لپاره جنګیږو. تر څو دین او بندګي خاص د الله لپاره شي:

﴿وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ﴾ [البقرة: ١٩٣]

ترجمه: «او ای مؤمنانو تاسو د دغه کافرانو سره تر هغه پورې و جنګیږئ ترڅو فتنه او فساد د ځمکې پر مخ پاتې نشي او ټول دین د الله تعالی لپاره شي».

او هر هغه څوک چې ددې مرام مخالفت وکړي او یا زمونږ د رسیدو دې هدف ته خنډ وګرځي، نو هغه زمونږ دښمن او زمونږ د تورو ښه دي، په هر نوم او نصب چې وي.

مونږ داسې یو دین لرو چې الله تعالی د مونږ لپاره میزان او فیصله کونکي رالیږلی دي، خبره یې قاطعه او ډاډ ښونکی ده، او فرمان یې ټوکې او ملنډې ندي، دا دین زمونږ او د خلکو په مینځ کې نسب دی، شریعت زمونږ آسماني دی، فرمانونه زمونږ قرآني دي، فیصلي زمونږ محمدي دي. امریکایي مسلمان زمونږ ګران ورور دی او کافر عرب زمونږ دښمن دی که څه هم مونږ او دوی له یوی مور څخه وو.

www.facebook.com/daarulsedq
www.twitter.com/daarulsedq
مکتبة دار الصدق
Daar-ul-Sedq